پوهندوی آصف بهاند

# که تړلي ښوونځي پرانستل شي نو...

ــ مالیم صیب چای مې پریښود،

ــ مو نه پوړرو کوتی واوښتو،

ــ بوم (بام) نه مې ټوپونه اچول،

ــ وریژې رانه تالې (تویې) شوې.

(ښوونځي ته د راغلو زدکوونکو د زړه حال)



که په افغانستان کې د نجونو د تعلیم د مخنیوي لپاره هر ډول پلمې او پروپاګند وشي، بیا هم خلک د خپلو اولادونو د تعلیم پلوي دي، غواړي چې د ښوونځیوو او پوهنځیو دروازې یې پرمخ پرانستې وي

او خلک له هر ډول امکاناتو نه په استفادې سره هڅه کوي چې اولادونه یې له تعلیم نه بې برخې پاتې نه شي.

هغه هېوادوال چې اقتصادي توان لري، خپل بچیان یې لري یا نږدې هېوادونو ته د زدکړو لپاره لېږلي دي او یا یې هڅه کړې ده چې د ګاونډیو هېوادونو له ډېرو تنګو شرایطو سره ـ سره هلته داسې زمینه برابره کړې چې اولادونه یې د ښوونځي دایرې ته ورشامل شي.

دغه راز زموږ هېوادوال د ځینو بهرنیو هېوادونه وعده کړو امکاناتو ته هم سترګې پر لار دي مثلاً جرمني له افغانستانه د سیمې او ګاونډیو هېوادونو کې  د پنځه زره (۵۰۰۰) افغان ښځو لپاره د زدکړو زمینه برابروي. د ازادي راډیو په یوه رپوټ کې په دې باب داسې راغلي دي:

«د جرمني د اقتصاد او پراختیا وزارت غواړي چې د سکالرشیپونو په مرسته د سیمې او د افغانستان په ګاونډیو هېوادونو کې ۵ زره افغانانو ته د زده کړو زمینه برابره کړي.

د افغان ځوانانو لپاره د سکالرشیپونو د اعلان په دوام دا ځل جرمني اعلان کړی چې د هغو زرګونو افغان ښځو او نجونو لپاره به د زده کړو زمینه برابره کړي چې د طالبانو د حکومت له خوا له زده کړو بې برخې شوې دي.

یو شمېر ښځینه محصلانې د جرمني حکومت له دې اقدام هرکلی کوي، خو وايي چې طالبانو د ښځو او نجونو پر مخ ټولې لارې تړلې او د دوی لپاره له دا ډول بورسونو ګټه اخیستل ګران دي.

له دغو محصلانو څخه یو یې، چې نه غواړي د امنیتي ستونزو له امله نوم یې واخیستل شي ازادي راډیو ته وویل: "له بده مرغه چې د طالبانو له واکمنۍ څخه وروسته په هېواد کې د نجونو د زده کړو ساحه محدوده شوې ده، د محرم محدویت شته، موږ که چېرې ځو له ځان سره باید محرم کس ولرو. زما په فکر د افغان نجونو له پاره دا ډول بورسیې مناسبه حل لاره نه ده".

دا وايي چې د افغان نجونو لپاره د زده کړې شرایط ورځ په ورځ سختېږي.
په ورته وخت کې د پوهنتون یو استاد خوشحال اصفي په دې باور دی چې که د افغان نجونو د زده کړو لپاره څه کېږي، باید په افغانستان کې دننه وشي.

اصفي د جرمني د حکومت دا کړنه ستايي، خو وايي نړۍ باید پر طالبانو فشار راوړي چې د نجونو لپاره د زده کړو دروازې پرانېزي.

هغه زیاتوي: "دا به ښه وی چې نړیواله ټولنه په افغانستان کې پر واکمنې ډلې فشار راوړي چې په افغانستان کې دننه ښوونځي او پوهنتونونه پرانېزي. هغه څه چې جرمني تېره اوونۍ اعلان کړل دا کار ناشوني ښکاري، په افغانستان کې د ښځو او نجونو پر وړاندې ډېر خنډونه پراته دي، له افغانستانه وتل، په ځانګړې ډول د یوې نجلۍ او ښځې لپاره په دې حالت کې چې حاکمه ډله دوی بې محرمه سفر ته نه پرېږدي سخت کار دی، دوی ته به څنګه اجازه ورکړي چې پاکستان یا بنګله دېش ته د زده کړو لپاره ولاړې شي".
د جرمني د اقتصاد او پراختیا وزارت ویلي چې په پاکستان، بنګله دېش او قرغزستان کې به ۵۰۰۰ افغان مېرمنو ته د سکالرشیپونو په ورکولو سره د زده کړو زمینه برابره کړي.

ټاکل شوې چې دا پروګرام د هغو نجونو لپاره پیل شي چې پر افغانستان د طالبانو تر واکمنېدو ورسته بنګله دېش، قرغزستان او پاکستان ته تللې دي.

د جرمني د اکاډمیکې تبادلې سرویس چې د دې پروګرام اسانتیاوې برابروي، ویلي چې د دې پروګرام هدف هغه ښځې او نجونې دي چې د تېر کال په ډسمبر میاشت کې په افغانستان کې له زده کړو محرومې شوې وې.

د دغه پروګرام بودیجه څه باندې ۷ میلیونه یورو ده چې د جرمني د اقتصاد او پراختیا وزارت له خوا ورکول کېږي.

د جرمني د اقتصادي همکاریو او پراختیا وزیرې سوینیا شولزه ویلي، د طالبانو پالیسي نه یوازې د ښځو په وړاندې سپکاوی دی، بلکې د افغانستان د پرمختګ لپاره هم زهرجنه ده.

هغې په خپله ټویټر پاڼه لیکلي چې له لوستو ښځو پرته له لوږې او بېوزلۍ څخه د خلاصون لاره نه شته او دوی به د افغان ښځو د ملاتړ لپاره د حل د لارو چارو له لټولو لاس وانخلي.

وروسته له هغه چې د طالبانو حکومت په افغانستان کې د ښځو او نجونو پر زده کړو بندیز ولګاوه، څو هېوادونو، نړیوالو موسسو او پوهنتونونو د زرګونو افغان ښځو او نجونو لپاره سکالرشیپونه اعلان کړل.»

دغه راز زموږ اړ هېوادوال چې د خپلو بچیانو زدکړو ته لېواله دي، که څوک هسې د ډیپلوماسۍ له مخې د افغان نجونو د زدکړو پلوي وکړي، دوی ورته غوږونه څک کړي وي چې که د نجونو د ښوونځیو د پرانستلو لپاره لار اواره شي، نو ښه به وي. څو ورځې مخکې د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوګان ویلي وو چې: «له زدکړو د افغان نجونو منع کول "نا انساني او غیراسلامي" کار ګڼو.» د اردوګان د دې خبرې په باب د بي بي سي پښتو په یوه رپوټ کې داسې راغلي دي:

«د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان په افغانستان کې د طالبانو حکومت باندې نیوکه کړې چې ګواکې ښځینه زدکوونکې یې له زدکړو منع کړې دي.

ښاغلي اردوغان ویلي، "په افغانستان کې له حجاب سره سره بیا هم نجونې په ښوونځیو او پوهنتونونو کې زدکړو ته نه پرېښودل کېږي. موږ دا یو نا انساني او غیر اسلامي کارګڼو، زموږ دین کې داسې څه نه شته."

د ترکیې ولسمشر دغه څرګندونې په خپله یوه وینا کې کړې او ویلي یې دي چې افغان نجونې باید زدکړو ته پرېښودل شي.

ده زیاته کړې، "موږ ته هېڅوک په اسلام کې دا نه شي تشریح او توجیه کولای چې ښځې له زدکړو پکې منع شوې وي. اسلام داسې څه نه مني، بلکې سپارښتنه کوي چې له زانګو تر ګوره علم تر لاسه کړئ"

په افغانستان کې واک ته د طالبانو له بیا رسېدو راهیسې یې حکومت پر نجونو او مېرمنو بېلا بېل محدودیتونه لګولي دي. خو وایي چې دا لنډمهاله دي او د کار او زدکړو په برخه کې "مناسبت" چاپېریال ورته جوړوي.

خو له شپږم تر دوولسم ټولګي یې د نجونو پر وړاندې د ښوونځیو پر تړلو تر یو نیم کاله ډېره موده کېږي.

وروسته یې د دوی پر مخ پوهنتونونه هم وتړل او په وروستي ګام کې یې په نادولتي موسسو کې هم ښځینه کارکوونکې له کاره منع کړې.

دغو بندیزونو او محدودیتونو په کور دننه او بهر پراخ غبرګونونه درلودلي دي او د ترکي ولسمشر څرګندونې یې په اړه تازه هغه دي.»

دغه راز د تېرې جنورۍ میاشتې په څوارلسمه نېټه د نړۍ د ۹۱۰ شخصیتونو او بنسټونو په یو پرانیستی لیک کې راغلي وو چې:

«طالبانو افغانستان د تیارو دوران ته ورټېل وهلی»



د یاد رپوټ په یوه برخه کې داسې ویل شوي دي:

«د نوبل سولې جایزې ګټونکې شیرین عبادي په ګډون ۹۰۹ شخصیتونو، افغان او نړیوالو بنسټونو په یوه پرانیستي لیک کې له طالبانو غوښتي چې پر ښځو لګول شوي بندیزونه لغوه کړي.

دوی د طالبانو له لوري له زدکړو او کاره د افغان نجونو او مېرمنو منع کول "ګواښونکی عمل" او د "ژورې خواشینۍ" وړ بللی او په دغه لیک کې یې لیکلي چې طالبانو کولای شول په شپاړسو میاشتو کې هماغسې کالي یا یونیفورم او چاپېریال ورته برابر کړي چې دوی یې غواړي خو "طالبانو په وروستیو کړنو سره هېواد د تیارو دوران ته ورګرځولی دی."

په دغه لیک کې همدا راز ویل شوي چې "د طالبانو د ادعا برخلاف د افغانستان په ټولنه کې د نجونو د زدکړو پر وړاندې هېڅ راز کلتوري او دوديز خنډ نه شته"

د دغه لیک په پای کې د ۹۱۰ کسانو او د نړیوالو بشري حقونو مدافع بنسټونو لاسلیک لیدل کېږي او پوښتنه یې کړې ده چې "ایا په افغانستان کې نجلۍ اوسېدل جرم دی؟" او همدا راز یې د اسلام له نظره هم د "تحصیل حق" ته اشاره کړې چې ګواکې پر ښځه او نارینه دواړو فرض کړای شوی دی.

خو دوی وايي، "طالبانو د دغو امرونو پر خلاف عمل کړی"

د لیک په وروستیو کې له نړیوالې ټولنې، ملګرو ملتونو او د نړۍ له مشرانو غوښتل شوي چې له "ډيپلوماتیکو لارو" او "پر طالب مشرانو د بندیزونو لګولو سره" دې پر دوی فشار راوړل شي او پر لیکه بڼه او کورونو کې دې نجونو ته د زدکړو زمینه برابره کړای شي.

همدا راز یې د اسلامي همکاریو سازمان نه غوښتي چې د دیني مشرانو یو بېړنی بحث دې رامنځ ته کړي چې په دې اړه "فتوا" ورکړي.

په دغه لیک کې په افغانستان کې پر بشري حقونو د څار مخکښني ځانګړي رپورټر کمال حسین، د مذهب او عقیدې ازادۍ پخواني ځانګړي رپورټر احمد شهید، د ښځو او نجونو پر وړاندې د تاوتریخوالي د مخینوي مخکښنۍ ځانګړې رپورټرې رادیکا کوماراسوامي او ځینو نورو نومونه لیدل کېږي.»

څه موده وړاندې د طالبانو د پوهنې وزارت په یوه مکتوب کې خپلو اړوندو پوهنیزو ادارو ته امر کړی و چې په ځینو ولایتونو کې د نجونو دیني مدرسې او له شپږم ټولګي د لاندې ټولګي د نجونو زدکوونکو پرمخ د سیمه ییزو چارواکو له لوري تړل شوي ښوونځي بېرته بشپړ پرانستل شي او له لومړي تر شپږم ټولګي زدکوونکې نجونې په ښوونځیو او ښوونیزو کورسونو کې زدکړې کولی شي. د طالبانو د نرمش په ښودلو سره په ځینو سیمو کې تر شپږم ټولګي کښته نجونې بېرته ښونځیو ته لاړې.

د افغانستان اسلامي امارت
Islamic Emirate of Afghanistan
Ministry of Education
امارت اسلامی افغانستان

د پوهنې وزارت
وزارت معارف

شماره : ۳۰۲۰
تاریخ : ۱۵/۱۱/۱۴۴۴ هـ ق

ریاست عمومی دفتر
ریاست اسناد، تعقیب هدایات و احکام
آمریت اسناد و ارتباط
مدیریت عمومی اسناد

عاجل ☐ عادي ☐ اطمینانیه ☐ ابلاغیه ☐ سایر ☐

**د ښوونې او روزنې محترم معینیت ته!**

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته!

دا چې د پوهنې وزارت اړوند د نجونو ښوونځي بوازې له شپږم ټولګي څخه پورته تر امر ثاني پورې معطل دي خو په ځینې ولایتونو کې د نجونو دیني مدارس او له شپږم ټولګې څخه لاندې (له لومړي څخه تر شپږم) ټولګي د نجونو زده کوونکو پرمخ هم ښوونځي د محلي مسئولینو له لورې تړل شوي دي. په همدې اساس، هدایت درکول کیږي چې د دې مکتوب له صدور څخه وروسته د ښځینه وو مدارس په بشپړ ډول د فعالیت اجازه لري او له لومړي ټولګي تر شپږم ټولګي زده کوونکې نجونې کولای شي په ښوونځیو او ښوونیزو کورسونو کې زده کړې ترسره کړي.
همدارنګه له شپږم ټولګي څخه ښکته د زده کړو هغه ټولګي چې د مؤسساتو لخوا تطبیق کیږي او د پوهنې وزارت لخوا د فعالیت جواز لري د هغوي ښځینه زده کوونکي خپلو زده کړو او ښځینه ښوونکې یې خپلو دندو ته د شرعي حجاب په رعایت او په پوره اطمینان سره ادامه ورکولای شي.
که چیرې سیمه ایزو مسئولینو له لورې په دې برخه کې کوم مزاحمت کیږي، نو بیا رسماً دې ستونزه د پوهنې وزارت له اړوندو ادارو سره شریکه کړي.

والسلام

الحاج مولوي حبیب الله آغا
د پوهنې وزارت سرپرست وزیر

په افغانستان کې د ښوونځیو د پرانستل کېدو لپاره د نجونو هیله او مینه تر دې اندازې پورې ډېره ده چې که واوري یا ووینی چې ښوونځي یې پرانستل شوي دي نو له خوښۍ نه په جامو کې نه ځاېږي. د ثبوت لپاره به د یوه ښوونکي یو لنډ شانتې رپوټ دلته تاسو درنو لوستونکو ته وړاندې کړم چې عملاً یې په ټولګي کې ښوونځی ته له راغلو زدکونکو نه پوښتلي چې د ښوونځي د پرانستل کېدو لپاره څه ډول خوشاله شوې دي. محمدالله مسعود چې د افغانستان په جنوب کې د یوه ښوونځي ښوونکی دی، په خپله فیسبوکپاڼه کې د دوه زره درویشتم کال د د فبرورۍ پر پنځمه ( ۲۰۲۳/۰۲/۰۵) داسې ولیکل:

«دا دې ۴۰ ورځې وروسته د کلي مکتب بیا پرانستیل شو. نن نو وړې جینکۍ دومره خوشالې وې چې پوښتنه یې مه کړه. انجینر صیب نور محمد په واټساپ کې میسج راته کړی و ، چې ستاسو مکتب بیا پرانستیل شو. نن چې لومړۍ ورځ وه ، له درس مخکې مې دوی وپوښتلې. ورته ومې وې چې ، څومره خوشالې شوې چې د مکتب د خلاصیدو زیری مو واورید. یوې ووې: دومره خوشاله وم چې

خپل سر ته مې سوکان ونيول. بلې ووې: کله چې خبره شوم ، په منډه کې رانه چړاکې پاتې شوې. نن مې ټولې وپوښتې چې لاندې يې فقط خبرې را اخلم.

**ــ ماليم صيب چاى مې پرېښود ،**

**ــ مو نه پوډرو کوتی واوښتو،**

**ــ بوم (بام) نه مې ټوپونه اچول،**

**ــ وريژې رانه تالې ( تويې) شوې.**

نورو ډېرو هم خپلې خاطرې راسره شريکې کړې. زړه کې مې ووې چې وړې جينکۍ چې دومره خوشالې وي ؛ نو که مکتبونه او پوهنتونه خلاص شي ، د هغو سترو جينکيو د خوښيو او احساساتو ګراف به څومره وي ؟»

دا زمونږ د وطن حال دی چې د سختو توفانونو او ستونزو په منځ کې راګير دی، دې ته فکر کول په کار دي چې څنګه مونږ کولای شو چې خپل خلک او وطن د دې توفانونو او ستونزو له مرګونو څپو څخه وژغورو او که خدای مه کړه څو نسلونه مو له ښوونخي او پو هنځي څخه محروم شي، بيا نو...

www.dawatmedia24.com